# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



یونس نگاه


۳۰ اگست ۲۰۲۳



**یونس نگاه**

# د افغانستان اصلي ناورین سیاسي دی نه اقلیمي

د نړۍ په کچه اقلیمي بدلونونه شته. ځیني هېوادونه له تودوخي، ځیني د اوبو له کموالي، اورلګوني، وچکالي او دوړو او خاورو، او یو شمېر له بې وخته بارانونو او له ویجاړونکو سیلابونو سره په مخامخ کېدلو دغه بدلونونه حس کوي. په دې ورځو کې د هوا د تودوخي د لوړېدا په اړه زمونږ له سیمي نه نیولې د اروپا تر سوېل او د امریکا د یو شمېر سیمو پورې خبرونه خپرېږي. دغه ناورینونه له درده ډک اقتصادي او بشري اغېزې پرځای پرېږدي. ټولنې او کورنۍ زیان ویني او بنسټونه تر سختو فشارونو لاندې راځي.

طبیعي آفتونه او د هوا ناورین ورته شرایط د بشر لپاره تازه نه دي، بلکې انسانان د همدې آفتونو او نارینونو په کوره کې پاخه شوي او توانېدلي لوی خطرونه او ګواښونه په فرصت بدل کړي. په تېرو زمانو کې د بشر د علمي او فني کمزورتیا له امله، د چاپېریال اغېزې تر دې هم ډېرې وې. د پوهانو په خبره په اوسني وضعیت کې تازه ټکی دادی چې د لومړي ځل لپاره انسان ددغو طبیعي ناورینونو په رامنځته کولو کې فعال او مهم عامل ګڼل کېږي. ډېر لګښت او افراط، چاپېریال او طبیعت یې له ګڼ شمېر کړاونو سره مخ کړي دي. ددغه بدلون د پایلو په اړه، بېلابېلې تبصرې او شننې ترسره شوې دي او ځیني سازمانونه او کارپوهان دا د وروستی زماني سناریو بولي. سربېره پر دې، ښه خبرونه هم لږ دي. چین، چې د هوا د ککړتیا له لویو ونډه لرونکو هېوادونو نه دی، د پاکې انرژۍ د معرفي کولو په لاره کې یې د پام وړ پرمختګ کړی او په ځینو برخو کې یې تر ټولو مخکې ګام اخیستی دی. له هغې ډلې د لمریزې انرژۍ د تولید په اړه یې چې څومره په خپلو پروګرامونو کې اعلان کړی و، په وروستیو کلونو کې له هغه نه زیاتې لاسته راوړنې درلودلې دي. د زرغون کمربند رامنځته کول، د سکرو د مصرف کموالی، د اوبو مدیریت او په چین او د نړۍ په نورو هېوادونو کې له اوسني وضعیت نه د خلاصون لپاره د اوږدمهاله پروګرامونو پر لاره اچول له ښه مرغه د پراختیا په حال کې دي. په وروستیو کې د تلګراف په ورځپانه کې د «سپین» هایدروجنو د زیاتو ذخیرو په اړه د امبروس اوانس په قلم یوه مقاله خپره شوې ده او په هغه کې ویل شوي دي چې «د طبیعي هایدروجن ډېری

سرچيني زمونږ تر پښو لاندې دي او کېداى شي د هغو کېدنه دومره لګښت ته اړتيا ولري چې د انرژۍ د سيالۍ په نړۍ کې بدلون راولي او بازار د ميتان له [ګاز] نه چې [نن د انرژۍ اصلي سرچينه بلل کېږي] خپل ځان په لوري وهڅوي.» يوازې د پاکې انرژۍ د توليد په برخه کې هڅې چټکې شوي ندي، بلکې ډېرې نورې لاسته راوړنې دي چې بشر ورته په تمه دی.

د انرژۍ د ذخيره کوونکو آلات او د بټريو معرفي، د مصرف د کموالي لپاره په ماشينونو کې د ورځ تربلې اصلاحات، د خوراکي موادو د توليد او د اوبو د مديريت په برخه کې ورځ تربلې اختراعات او پرمختګونه، او کېداى شي ډېر شمېر نورې مثبتې پېښې چې د ميليونونو ډليزو پوهانو، د څېړنو او پراختيا زرګونو مرکزونو او د نړۍ په کچه د ډېرو پوهنتونونو هڅې زيرې له ځان سره ولري، چې د آخرزمانې وړاندوينې به غلطې ثابتې کړي. دا لومړی ځل ندی چې انسانان احساس کوي چې د سقوط په حال کې دي، بلکې په تېر کې هم د طبيعت او په ويجاړۍ کې د انسانانو د رول په اړه داشان فکرونو شتون درلود. لوی او تاريخ جوړونکي بدلونونه هم ددغو وېرو په اوج کې رامنځته شوي دي. ننی وېره به هم د د بشري پوهې په مرسته په فرصت بدله شي. په بنسټ پالنه او جګړه کې د ښکېلو هېوادونو له ډلې يې د افغانستان اصلي مسله، له علمي او فني بدلونونو نه وروسته پاتې والی دی. مونږ د اعجاز او بدلون په زمانه کې، هغه زمانه کې چې يوه ډله خلک د زمکې ژغورلو او د کهکشاني رازونو په موندنو بوخت دي، له يوه داسې ځواک سره مخ شوي يو چې د هېواد اصلي مسله د ښځو او نارينه و د جامو په اغوستلو، د زدکړو حرام او حلال ګڼلو، دنيايي چارو په اړه د سم او ناسمو تعبيرونو پورې بولي.

د اقليمي بدلونونو د پايلو په مديريت کې د تولنو زيانمنتيا د هغوی په علمي او تولنيزو امکاناتو پورې اړه لري. د آمو سين دواړه خواوې يوه اقليمي حوزه ده، خو د هوا د بدلونونو اغېز د ياد سين دواړو خواو ته يو شان ندی. د هندوکش او هيماليا د غرونو په لمنو کې پرتې سيمې نېږدې د هوا له ورته بدلونونو سره مخ دي، په افغانستان او نورو هغه هېوادونو کې چې ددغو غرونو دواړو خواوو ته پراته دي د کرنې او اوبو لګونې وضعيت، د څښلو اوبو ته د خلکو لاسرسی، قحطی او سخت طوفانونه يې سره ډېر توپير لري. دغه توپيرونه زمونږ د هېواد د طبيعت له امله ندي، بلکې د سياسي ناورين پايله ده.

### شرمناکه مقياسونه

په دې ورځو کې د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې خلک د اوبو له کمښت او ناپاکې او طوفاني هوا نه شکايت لري. له بلخ او فارياب نه نيولې تر باميانو او کابل، له غزني او کندهار تر هرات او فراه پورې د هوا د وضعيت په اړه د خلکو انځورونه او شکايتونه خپرېږي. نړۍوال سازمانونه هم په رسمي راپورونو کې زمونږ د هېواد په اړه له اندېښنو ډک انځورونه خپروي. (اوچا) يا د ملګرو ملتونو د سازمان د بشر دوستانه مرستو همغږي کوونکي دفتر اعلان کړی چې افغانستان د اقليمي بدلونونو پر وړاندې د نړۍ د زيانمنونکو هېوادونو له ډلې دی.

ياد سازمان زمونږ هېواد د هغو لسو هېوادونو په ډله کې شمېرلی چې د اوبو او هوا له بدو پېښو سره مخ دی. د ياد سازمان په خبره، وچکالي زياتېږي او د خلکو معيشتي سرچيني لمنځه وړي. يوازې کرهنه او مالداري د اوبو له کمښت سره مخ ندي بلکې اوچا وايي چې په افغانستان کې ۲/۲۱ ميليونه وګړي د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی نلري چې حل لاره يې د ياد سازمان په وينا په بشري مرستو پورې تړاو لري دغه سازمان دغه راز اعلان کړی چې که چېرې ۴۷۹ ميليونه ډالر مرسته وشي، په افغانستان کې به په روان ميلادي کال کې د اوبو ناورين کنترول شي. په هېواد کې د څښلو د اوبو د ناورين د حل لپاره د اوچا له دغو وړانديز شويو پيسو کولای شو وپوهيږو چې دا ستونزه د

بشر د ننیو ناورینونو په پرتله څومره کوچنی ده، او وړاندې تر دې چې د هوا د بدلونونو له امله وي، د بې حکومتۍ او د ټولنیز او سیاسي ورتیا د نشتون پایله ده. په هغه زمانه کې چې خلک د سینا په دښته، د عربستان په دښتو او د فارس د خلیج د بې بارانه ساحلونو کې کولای شي ډېرې اوبه چمتو کړي، د هندوکش او د آمو، هیرمند او هریرود د ساحلونو په لمنو کې پراته اوسېدونکي ولې باید د څښلو اوبو، اوداسه او جامو مینځلو لپاره نړیوال ملاتړ ته سترګې په لاره وي؟ دا اړتیاوې او شرمناکه مقیاسونه د سیاسي ناورین او زمونږ د ټولنې د ژورې ناپوهی له امله دي.
مخکې تر دې، د خوړو نړیوال پروګرام په یوه راپور کې ویلي و چې افغانستان د غنمو له کمښت سره مخ دی. د یاد راپور له مخې، ملخونو او وچکالۍ د خلکو سنتي او زیانمنونکي کښت ځایونه ویجاړ کړي دي او ویلي یې دي چې د هېواد په کچه شاوخوا ۲۹ میلیونه وګړي مالي او د خوړو ملاتړ ته اړتیا لري. دغه شمېرنې ښیي چې د افغانستان ټولنه له هر ډول تحرک او کار او تدبیر نه وروسته پاتې ده، سنتي اړیکې پر خپل ځای پاتې دي او ځای یې بنسټونو او عصري سیستمونو نه دی نیولی، او میلیونونه انسانان د جګړې او وروسته پاتې والي طوفان له امله ډوبېږي. د خوړو نړیوال پروګرام ویلي دي چې د افغانستان ۲۵ ولایتونه له اضطراري شرایطو سره مخ دي او شاوخوا ۲۰ میلیونه وګړي نشي کولای کافي خواړه وخوري.

### د طالبانو د اداري مرېښت او د خلکو لوږه

طالبان د نړیوالو بنسټونو د ګواښونکو راپورونو او د هېوادوالو د شکایتونو پر وړاندې غلي دي او کله ناکله هم د نړیوالو سازمانونو نورو شمېرنو ته چې د عوایدو، د صادراتو د نرخ او تورم په اړه یې خپاره کړي دي مراجعه کوي، او اعلانوي چې د افغانستان د اقتصادي ناورین په اړه راپورونه یوازې تبلیغات دي. کله هم له هېواده بهر مارو هېوادوال د نړیوالو بنسټونو سره په ظاهره په ټکر کې د راپورونو له لوستلو وروسته لار ورکې شي او پوښتي کله چې د تورم نرخ منفي دی، نو د پیسو نرخ ثابت پاتې شوی، صادرات زیات شوي او د طالبانو د امارت عواید زیات شوي دي، نو څنګه ویلای شو چې هېواد له اقتصادي ناورین سره مخ دی او خلک وږي دي؟ هغه څوک چې افغانستان کې خپلو ماشومانو ته کافي خواړه نشي ورکولای، د خپلو ورځنیو لګښتونو ته حیران پاتې دي، ورځې په سړکونو او جادو کې د څو ساعته کار موندلو په لټه کې دي، او کله ناکله هغوی اړ کیږي چې خپل بدوډي یا خپل ماشوم وپلوري نو بهر میشتي هېوادوال هم کله چې د طالبانو د عوایدو د زیاتوالي او د تورم د منفي نرخ د اعلان په اړه خبرونه اوري هماغه پوښتنه دې وکړي، خو هېڅکله شک نه کوي چې هېواد له شدید اقتصادي ناورین سره مخ دی. ځکه چې هغوی د خپلو جیبونو، د خپلوانو د دسترخوانونو، د ګاونډیو او هېوادوالو د ځېرو په لیدلو سره پوهیږي چې ملت له سخت اقتصادي او د لوږې له ناورین سره مخ دی. رښتیا دادي چې طالبان د تېرو دوو کلونو په پرتله ډېر ماړه شوي دي، د طالبانو اداره د مالیاتو، ګمرکي محصولاتو، عشر او د بهرنیو د علني او پټو مرستو د راټولولو له لارې له یوې داسې بودیجې برخمن شوي چې ډېرې چارواکي، اداري مسوولین او د یادې ډلې قوماندانان له کافي تنخوا او د دسترخوان له خرڅ نه برخمن دي او د مدرسو او د ځینو جادو د جوړولو، د مراسمو پر لاره اچولو او د افراطیت د تبلیغ لپاره پیسې په خپل واک کې ولري.
طالبانو په تېرو نږدې دوو کلونو کې لکه د بریدګرو او غاصبې ډلې په توګه خلک یې په تدریج سره څنډې ته کړي او له هغوی نه یې عایداتي سرچینې اخیستي او ډېر شمېر یې بې دندو کړي دي. غیر مدرسه یې ټولنیز بنسټونه یې فلج کړي، ښوونځي یې تړلي، پوهنتونونه یې له علمي کادرونو او محصلینو نه تش کړي دي. واک ته د طالبانو بیاراتګ د هېواد علمي، اداري او بشري د سقوط په مانا و. په دغو سختو شرایطو کې، د ټولنې رسمي او غیر رسمي نظامونه یې

لمنځه وړي او خلک د سرگردانه موجوداتو په رمې بدل شوي چې طالبان د هغوی د شپون توب او کنترول مدعي دي، نه هغوی ته د خدمتونو د وړاندې کولو او رهبري او د هغوی د ملاتړ.

د افغانستان د سیاسي ناورین پر وړاندې د نړیوالي ټولني چوپتیا، له ارتجاعي جریان سره د ملگرو ملتونو او تر لاس لاندې د سازمانونو همغږي چې زمونږ ټولنه شاتگ ته بیايي، او دغه راز د خلکو د وضعیت په اړه د غلطو ارقامو په وړاندې کولو او پروژه يې تسکیني حل لاري زمونږ د ملت د ژغورني لپاره گټوري نه دي. د افغانستان د طبیعي ناورین په برخو له حد نه زیاته تکیه بې لاري کوونکي ده .زمونږ د هېواد طبیعت ښکلی او د عزته د ژوندانه له امکاناتو نه ډک دی. که چېرې سیاسي ناورین کنترول کړو، شدید باد، ځلېدونکی لمر او سخت سیلابونه به په دومره اسانی له مونږ نه قرباني وانخلي او حتی کولای شو هغه کنترول او د آبادئ او زرغونتیا په لاره کي ترېنه کار واخلو. د هغي ډلي لپاره چې پوهه، فرهنگ، ازادي، کار او ابادي لمنځه وړي، تدبیر وسنجوو.